# سورهٔ ماعُون

## (ترجمه او تشریح)

07-April-2023



هفته وراه د سُنّتو دکه اِجتماع کښې کيدونکے

د سُنّتو دک بيان

(For Islamic Brothers)

6 اپریل 2023ء د پاکستان په هفته وار اجتماع کښې کیدونکے بیان

# سورۂ ماعُون

(ترجمه او تشریح)

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ... خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د یتیم مدد اوفرمائیلو
- ...د سُورَۂ ماعُون مختصر تَعَارُف
- ... د زړه د نرمئ یوه نُسخه
- ... یو روژه ماتے د یتیم او مسکین سره

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ (اسلامِک ریسرچ سنٹر)

(شعبه بیاناتِ دعوتِ اسلامي)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ

اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا رَسُوۡلَ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا حَبِیۡبَ اللہ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا نَبِیَّ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا نُوۡرَ اللہ

نَوَیۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِکَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاك فضيلت

د مسلمانانو وړومبے خليفه، اَميرُ المُؤمِنِين حضرت ابو بکر صديق رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائي: اوبه چې څومره زر اور مړ کوي، د الله پاک په آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې درود شريف لوستل د دې نه هم ډير زر ګناهونه ورانوي او په نبي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې سلام ليږل د غلام آزادولو نه افضل دي.[1]

پڑھتا رہوں کثرت سے درود ان پہ سدا میں | اور ذِکر کا بھی شوق پئے غوث و رضا دے[2]

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په حديثِ پاک کښې دي: اَلنِّيَّةُ الۡحَسَنَةُ تُدۡخِلُ صَاحِبَهَا الۡجَنَّةَ ښه نيت بنده جنت ته داخلوي.[3]

اے عاشقانِ رَسُول! د ښه ښه نيتونو سره د عمل ثواب زياتيږي. راځئ! د بيان اوريدلو نه

---

[1]... تاريخِ بغداد، جلد:7 ، صفحه:172.

[2]... وسائلِ بخشش، صفحه:114.

[3]... مسند فِردَوس، جلد:4، صفحه:305، حديث:6895.

مخکښې څه ښه ښه نِیَّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِیَّت اوکړئ چې ❀ د اللّٰه پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❀ د عِلمِ دِین د تعظیم [یعني ادب] په نِیَّت به بااَدبه کښینم ❀ ښه په توجه سره به بیان اورم ❀ څه چې واورم، د هغې یاد ساتلو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رسولو کوشش به کوم.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## آه! د رَمَضَانُ الْمُبَارَک میاشت روانه ده...!!

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د رَمَضَانُ الْمُبَارَک مُقَدَّسه میاشت ده، دویمه عشره کومې ته چې د مغفرت [یعني بخښنې] عشره وئیلے شي، روانه ده، د یو څو ورځو مخکښنۍ خبره ده، مونږه د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د راتللو انتظار کولو، د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د سوچ سره د رمضان د عاشقانو زړونه خوشحاله وو، بیا رَمَضَانُ الْمُبَارَک تشریف هم راوړو او اوس په تیزئ سره د ختمیدو په لور روانه ده، د رحمتونو، برکتونو، بخښنې مبارک ساعتونه په تیزئ سره تیریږي.

دِل کو رُلا رہا ہے، رمضان جا رہا ہے
اس ہجر کو جو سوچا، آہیں نکل پڑی ہیں
روکو! کوئی تو روکو! ماہِ کرم کو روکو!
اب تک وہیں ہے غفلت، کچھ نہ ہوئی عبادت

حسرت بڑھا رہا ہے، رمضان جا رہا ہے
دِل ڈگمگا رہا ہے، رمضان جا رہا ہے
دامن چُھڑا رہا ہے، رمضان جا رہا ہے
دِل خوف کھا رہا ہے، رمضان جا رہا ہے

اے عاشقانِ رَسُول! اوس لا ورځې پاتې دي، اے کاش! د زړه د غفلت پردې لرې شي، شیطان خو د مخکښې نه قید دے، کاش! چې دا نفسِ اَمَّاره هم په څه طریقه سیدها شي

او مونږه د رَمَضَانُ المُبَارَک دا مبارک ساعتونه غنیمت اوګڼو او خپل رَبِّ کریم په څه طريقه په راضي کولو کښې کامياب شو.

ترے کرم سے مِلا مغفرت کا ہے عشرہ
رہائیِ نارِ جہنّم سے ہو عطا یارَبّ!

اِلٰہی رہ گئے رمضاں کے آخری روزے
رِہائیِ نارِ جہنّم سے ہو عطا یارَبّ!

اِلٰہی! رہ گئیں رمضاں کی آخری گھڑیاں
کرم سے بخش بھی دے ہم کو یاخُدا یارَبّ![1]

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## سورة المَاعُون: ترجمه او تشريح

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د قرآنِ کريم نازليدو په دې بابرکته ساعتونو کښې راځئ! د قرآنِ کريم د يو وړوکي سُورت، سورۂ ماعُون د ترجمے او د دې د مختصر وضاحت اوريدلو سعادت حاصلوو. د دې نه وړاندې د خوږ او آخري نبـي، رسولِ هاشمي، مکي مدني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مبارک سيرت يوه ښکلې واقعه اورو:

## خوږ آقا د يتيم مدد اوفرمائيلو

په رواياتو کښې دي: په مکه مکرمه کښې يو يتيم ماشوم وو، د دې اُمَّت فِرعون يعني د مکې مکرمې د ټولو نه غټ کافِر ابو جهل د دې يتيم د پالنې ذمه واري په خپله غاړه واخستله او هغه ټول مال کوم چې دې ماشوم ته په ميراث کښې پاتې شوے وو، هغه ئې په په خپله قبضه کښې واخستو.

اوس پکار خو دا وه چې ابو جهل د دې يتيم ماشوم ښه روزنه پالنه کړې وے خو دا بدبخته مسلمان نه وو، د ده زړه د حِرص او هوس نه ډک وو، ده د يتيم د روزنې پالنې

[1]... وسائلِ فردوس، صفحہ:28 ملتقطًا.

کولو په ځائے، اُلټا د هغه په مال قبضه واچوله. یوه ورځ هغه یتیم ماشوم بربنډ بدن د ده خوا له راغے او خپل مال ئې اوغوښتو، په دې باندې ابو جهل بدبخته هغه یتیم له دیکې ورکړې او بهر ئې اوویستلو.

په دې باندې د قریشو نورو سردارانو هغه یتیم ته اوویل: ته د مُحَمَّد (صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) خوا له لاړ شه! هغه به ستا مدد اوکړي. د قریشو سردارانو دا خبره د خندا په طور کړې وه، د هغوئي مقصد وو چې دا یتیم ماشوم به د مُحَمَّد (صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) نه مدد اوغواړي، هغه به د ده مدد اونکړے شي. خو هغوئي ته څه پته وه...!! چې هغه د رَبِّ کائنات محبوب دے، که هغوئي د بنو لږه شان اشاره هم اوکړي نو دُنیا د یو خوا نه بل خوا ته کیدے شي.

| غم ورنج والَم اور سب بلاؤں کا مداوا ہو | اگر وہ گیسوؤں والا مراِدلدار ہو جائے |
| --- | --- |
| اشارہ پائے توڈوباہو اسورج بر آمد ہو | اٹھے انگلی تومہ دوبلکہ دودو چار ہو جائے [1] |

د چا په اشاره چې پریوتے لمَر را واپس شي، چې ګوته اوچته کړي نو سپوږمۍ دوه ټکړے شي، آیا د هغوئي په غوښتلو به د یو یتیم ماشوم غم لرې نشي خو کافِر ته د الله پاک د حبیب مقام څه معلوم دے...!!

خیر! هغه یتیم ماشوم د دواړو جهانونو د سردار، مکي مدني سرکار صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر شو او خپل فریاد ئې اوکړو. خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه ماشوم د ځان سره کړو او فوراً ئې د ابو جهل کور ته تشریف یوړلو. د قریشو د سردارانو خو دا سوچ وو چې ابو جهل به غرور ښکاره کړي، مَعَاذَالله! د الله پاک د رسول صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره به د ګستاخۍ رویه خپله کړي خو دا څه اوشو...!! ابو جهل چې څنګه سرکارِ عالي

[1]... سامانِ بخشش، صفحہ:172-174 ملتقطًا.

وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اولیدلو نو په ادب سره ئي مرحبا اووئیله او د هغوئي هرکلے ئې اوکړو او فوراً ئې د یتیم مال راوړو او هغه ته ئې حواله کړو.

دا ئې چې اولیدل نو د قریشو خلق حیران پاتې شول، هغوئي چې د ابوجهل نه د قیصې پوښتنه اوکړه نو ده اووئیل: په خدائے مې دې قسم وي! ما د مُحَمَّد صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ښي او کڼ اړخ ته یوه نیزه اولیدله، زما سره دا ویره شوه چې که چرې ما د هغوئي خبره اونه منله نو په نیزه به مې ووهي.[1]

مُعطِی مطلب تمہارا ہر اِشارہ ہو گیا
جب اِشارہ ہو گیا، مطلب ہمارا ہو گیا

ڈوبتوں کا یا نبی کہتے ہی بیڑا پار تھا
غم کِنارے ہو گئے، پیدا کِنارہ ہو گیا

نام تیرا، ذِکر تیرا، تو ترا پیارا خیال
ناتوانوں، بے سہاروں کا سہارا ہو گیا[2]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** په تفسیرِ صراط الجنان کښې دي چې کله د ابو جهل او د هغه یتیم ماشوم دا واقعه اوشوه نو د سیپاره 30 سُورَۂ ماعُون وړومبي یوځو آیتونه نازِل شول، اللہ پاک اوفرمائیل:

اَرَءَیْتَ الَّذِیْ یُكَذِّبُ بِالدِّیْنِ ﴿۱﴾ فَذٰلِكَ الَّذِیْ یَدُعُّ الْیَتِیْمَ ﴿۲﴾ وَ لَا یَحُضُّ عَلٰى طَعَامِ الْمِسْكِیْنِ ﴿۳﴾

(پاره:30، سورۂ ماعون:1-3)

**مفهوم ترجَمۂ کنزُ الایمان:** آیا تا هُغه کَس اولیدلو څوک چې دین دروغ ګڼي، بیا هغه داسې دے چې یتیم ته دیکې ورکوي او مسکین ته د طعام ورکولو ترغیب نه ورکوي.

[1]... اَلسِّیرۃُ الْحَلَبِیّۃ، باب عرض قریش علیہ ...الخ، جلد:1، صفحہ:445.
[2]... ذوقِ نعت، صفحہ:74 ملتقطًا.

## د سُورَۂ ماعُون مختصر تَعارُف

**اے عاشقانِ رَسُول!** سُورَۂ ماعُون مکي (يعنې د هجرت نه مخکښې نازل شوؤ سورتونو کښې يو سورت) دے، په دې سورت کښې 1 رکوع او 7 آيتونه دي. د ماعُون معنیٰ ده د استعمال معمولي خيز او د دې سورت په آخري آيت کښې دا لفظ موجود دے په دې مناسبت سره دې ته **سُورَۂ مَاعُون** وئيلے شي. دا هم وئيلے شي چې دا سُورت نيم په مکه کښې د مکې د کافِرانو مثلاً ابو جهل، عاص بن وائِل وغيره په باره کښې نازل شو ولې د دې باقي نيمه حِصه د عبدُ الله بن ابي سلول منافِق په باره کښې په مدينه منوره کښې نازله شوه.[1]

## د سُورۂ ماعُون يوه بنيادي نکته

علّامه بُقاعِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: په سورۂ ماعُون کښې بنيادي طور د دې نکتې تشريح شوې ده چې د قيامت په ورځ د راپاخيدو او د الله پاک په دربار کښې پيش کيدو نه انکار کول اَبُو الْخَبَائِث (يعنې د ګناهونو جرړه) ده. د دې انکار په وجه انسان د بدو اخلاقو او خراب کردار عادي شي.[2]

د قيامت د ورځې دا انکار انسان ظالِم جوړوي، څوک چې د قيامت نه انکار کوي، د هغه دننه انسانيت ختميږي، هغه د انسان په شکل کښې ځناور جوړ شي او په يتيمانانو، مسکينانو او بے وسه خلقو ظلمونه کوي او دوئي له ديکې ورکوي، دغه د قيامت انکار انسان رياکار جوړوي، دغه د قيامت انکار بنده د خپل رَبِّ کريم نافرمانه

[1]... حاشية الصاوی علی تفسير جلالين، پاره:30، سورۂ ماعون، جلد:3، صفحہ:338.

[2]... تفسير نظم الدرر، پاره:30، سورۂ ماعون ، جلد:8 ، صفحہ:541.

جوړوي او د دې انکار په وجه انسان د بخل يعنې کنجوسۍ او حِرص او هوَس په ډَنډه کښې اونښلي او تباه او برباد شي.

## د آخِرت نه د نهٔ ويريدلو وبال

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! مونږه اَلْحَمْدُ لِلّٰه! مسلمانان يو، د الله پاک ډير لوئے فضل دے چې مونږه په قيامت باندې ايمان لرو، زمونږه پوخ يقين دےچې د مرګ نه پس هم يو ژوند دے، الله پاک چې کله اوغواړي، مړي به بيا ژوندي کړي، حشر به وي، ټول وړاندې وروستو [تير شوي خلق] به د حشر په ميدان کښې جمع وي،د اعمالو حساب به کيږي، د الله پاک په بارګاه کښې به پيشي کيږي، خامخا به کيږي. اَلْحَمْدُلِلّٰه! مونږه دا هر څه منو هم، او په دې باندې پوخ يقين هم لرو.

خو افسوس! زمونږ [د زړونو] نه د قيامت ويره په ختميدو ده ووځي، د الله پاک په دربار کښې د پيشۍ ويره مو ورځ په ورځ کميږي او زمونږه په معاشره کښې د خرابۍ دا بنيادي وجه ده. اګر چې د ګناهونو، جرمونو نور ډير اسباب دي، په هغې کښې يو ډير زيات اهم او بنيادي سبب د آخرت نه د ويريدو کمے هم دے. غور اوکړئ! ✿ شراب ولې څښلے کيږي؟ د آخرت نه د ويريدو د کمي په وجه ✿ انسان د بدکارۍ په لور ولې ځي؟ د آخرت نه د ويريدو د کمي په وجه ✿ سود ولې کيږي؟ د آخرت نه د ويريدو د کمي په وجه ✿ غلاګانے ولې کيږي؟ د آخرت نه د ويريدو د کمي په وجه ✿ ډاکې ولې کيږي؟ د آخرت نه د ويريدو د کمي په وجه ✿ بر ناحقه قتلونه ولې کيږي؟ د آخرت نه د ويريدو د کمي په وجه ✿ د جوارۍ اډے ولې رواني دي؟ د آخرت نه د ويريدو د کمي په وجه ✿ غيبت ولې کيږي؟ د آخرت نه د ويريدو د کمي په وجه ✿ چغلي، دروغ، وعده خلافي، کنزلې، دا هر

څه ولې کيږي؟ **د آخرت نه د ويريدو** د کمي په وجه ❁ په هر کور کښې جنګ جګړې ولې دي؟ **د آخرت نه د ويريدو** د کمي په وجه ❁ په ناپ تول کښې کمے ولې کيږي؟ **د آخرت نه د ويريدو** د کمي په وجه، غرض: د ګناهونو چې څومره هم لوئے فهرست جوړ کړے شي، د هغه ټولو ګناهونو په اسبابو کښې چې به درته کوم بنيادي څيز ميلاؤ شي هغه به **د آخرت نه د ويريدو** د کمي وجه وي.

يقين اوکړئ! که چرې زمونږه په قبر و حشر او د الله پاک په بارګاه کښې د پيشئ حقيقي ويره نصيب شي نو زمونږه معاشره به واقعي چې مثالي معاشره جوړه شي، زمونږ د معاشرې نه به ټولې بدئ ختمې شي د ګناهونو اډے به ورانې شي او ټوله معاشره به په دُنيا کښې د جنّت تَصَوُّر جوړ شي.

الله پاک دې زمونږه حقيقي ويره نصيب کړي. الله پاک دې مونږ له د حقيقي، باکرداره او با اخلاقه مسلمان جوړيدو توفيق راکړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

| | |
|---|---|
| ترے خوف سے، تیرے ڈر سے ہمیشہ | میں تھر تھر رہوں کانپتا یااِلٰہی! |
| مِرے اَشک بہتے رہیں کاش ہر دَم | ترے خوف سے یاخُدا یااِلٰہی![1] |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د سُورَۂ ماعُون 4 مرکزي مضامين

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** په سُورَۂ ماعُون کښې بنيادي طور د کُفارو او منافقانو 4

[1]... وسائلِ بخشش ، صفحہ:105 بتقديم و تاخير.

عیبونه ذِکر شوي دي: (1) بخل یعنې کنجوسي (2) په لمُونځونو کښې سستي او بے پرواهي (3) ریاکاري او (4) د نورو خیر خواهي نه کول.

## (1) بخل یعنې کنجوسي

کافِر کوم چې د دِین، د مرګ نه پس راپاڅیدو او د قیامت قائمیدو نه انکار کوي، د هغوئي ورومبے عیب بخل یعنې کنجوسي ده. اللہ پاک فرمائي:

يَدُعُّ الْيَتِيمَ ﴿٢﴾ وَلَا يَحُضُّ عَلٰى طَعَامِ الْمِسْكِيْنِ ﴿٣﴾
(پاره:30 ، سورۂ ماعون2..-3)

مفهوم ترجَمۂ کنزُ الایمان: یتیم ته دیکې ورکوي او مسکین ته د طعام ورکولو ترغیب نه ورکوي.

یعنې د دین نه د انکار کوونکي ګس اخلاقي حال دا دے چې هغه یتیم له دیکې ورکوي او هغه خپل کور والؤ او نورو مالدارانو له د دې خبرې ترغیب نه ورکوي چې هغوئي مسکین له طعام ورکړي. [1]

اَللّٰہُ اَکبر! دا د کنجوسۍ څومره خرابه درجه ده...!! که څوک هر څومره کنجوس ولې نه وي، د ژړیدونکي، یتیم او بے وسه لیدلو سره خو د انسان زړه سوزي، که زیاته نه وي نو د یو یا نیم وخت طعام خو په هغه خوړے شي خو دا د قیامت نه انکار کوونکے تر کوم حده پورې خراب دے چې دا یتیمانان، بے وسو له دیکې ورکوي، لکه څنګه چې مونږه د ابو جهل واقعه واوریدله، هغه د یو یتیم د پالنې ذمه واري واخستله، بیا په ځائے

[1] ... تفسیر روح البیان، پاره:30 ، سورۂ ماعون، زیرِ آیت:3 ، جلد:10 ، صفحہ:536.

د دې چې د هغه پالنه اوکړي، د هغه ښه روزنه پالنه اوکړي، هغه بد بخته اُلټا د هغه يتيم په مال قبضه اوکړه او هغه له ئې ديکې ورکړې او د کور نه ئې اوويستلو.

د الله پاک پناه...!! الله پاک دې مونږ له د يتيمانانو، بے وسو سره د نيک سلوک کولو توفيق را کړي.

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم .

## د يتيمانانو حق مه خورئ!

ډيره د افسوس خبره ده چې نن سبا زمونږ په معاشره کښې هم يتيمانانو ته د قدر په نظر نه کتلے کيږي ❁ يتيم ماشوم ته د هغه د يتيمئ احساس ورکول ❁ د هغه سره بد سلوک کول ❁ د خپل اولاد او د يتيم ماشوم په مينځ کښې فرق کول او د هغه زړه خفه کول خو د معمول خبره ده، داسې نادانه زمونږ په معاشره کښې هم موجود دي کوم چې قصداً عمداً يا په ناپوهئ کښې د يتيمانانو مالونه خوري. شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِيَه فرمائي: د عِلمِ دِين نه د لرې والي او د جهالت په وجه عام طور په خاندانونو کښې ميراث نه تقسيميږي اکثر په وارثانو کښې يتيمانان واړه هلکان او جينکئ هم شاملې وي او خلق ډير په زړورتيا سره د دې يتيمانانو مالونه خوري ښنبي او په هر قِسم استعمال کښې ئې راولي حالانکه دا هر څه جائز نه دي او دې طرف ته د چا پام هم نه وي. **ياد ساتئ!** د مړي په وارثانو کښې که چرې څوک يتيم وي نو تر څو پورې چې د ميراث تقسيمولو سره د يتيم حصه بيله نکړے شي تر هغې پورې د دې نه د مړي د ايصالِ ثواب د پاره صدقه او خيرات وغيره

هم نشي کيدے. په سيپاره 4، سُورَۂ نِساء، آيت نمبر 10 کښې د الله پاک فرمانِ عالي شان دے:

اِنَّ الَّذِیْنَ یَاْكُلُوْنَ اَمْوَالَ الْیَتٰمٰى ظُلْمًا اِنَّمَا یَاْكُلُوْنَ فِیْ بُطُوْنِهِمْ نَارًاؕ-وَ سَیَصْلَوْنَ سَعِیْرًا۠(۱۰)

(پاره:4 ، سورۂ نساء:10)

مفهوم ترجَمۂ کنزُ العرفان: بے شکه هغه خلق کوم چې په ظلم سره د يتيمانانو مالونه خوري هغوئي خپلې خيټې بالکل د اور نه ډکوي او ډير زر به دا خلق لمْبه شوي اور ته غورزيږي.

د دې آيت مبارک لاندې **مشهور مُفسّرِ قرآن، حکيمُ الاُمَّت** حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ فرمائي: چې کله د يتيم مال د خپل مال سره يو ځائے خوړل (په يو شمير حالاتو کښې) حرام شو نو په بيل طور باندې خوړل ئې هم ضرور حرام دي. د دې نه معلومه شوه چې يتيم له هِبه (تحفه [ډالئ] ) ورکولے شې خو د هغه نه ډالئ نشې اخستے. دا هم معلومه شوه چې په وارثانو کښې چې يتيم هم وي د هغه د ميراث نه نياز، فاتحه خيرات کول حرام دي او د دې خوراک استعمال حرام [دے] . وړومبے دې مال تقسيموي بيا دې بالغ وارث د خپل مال نه خيرات کوي. چې کله د مړي يتيم يا غير حاضر وارث وي نو د شريک مال نه فاتحه خيرات وغيره حرام کار دے، په دې کښې د يتيم حق شامل دے بلکه وړومبے دې تقسيم کړي بيا دې څوک بالغ وارث د خپلې حصې نه دا ټول کارونه اوکړي ګڼې نو چې څه هم هغوئي خوري د دوزخ اور به خوري. د قيامت په ورځ به د هغوئي د خُلے نه لوګے خيژي. په حديث شريف کښې د يتيم مال په ظُلم سره خوړونکي به د قيامت په ورځ داسې راپاځي چې د هغوئي د خُلو، غوږونو

او پوزو بلکه د قبرونو نه به لوګے خیژي د کومې نه چې به هغوئي پیژندلے شي چې دوئي د یتیمانانو مالونه په ناحقه خوړونکي دي.[1]

الله پاک دې مونږ له د یتیمانانو بلکه د ټولو مسلمانانو د حقونو پوره پوره ادا کولو توفیق راکړي. راځئ! د یتیمانانو ماشومانو سره د نیکۍ په کولو باندې 3 احادیث اورو:

## د یتیم او د مسکین د پالنې فضیلتونه

**(1)** د الله پاک خوږ نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: په مسلمانانو کښې بهترین کور هغه کور دے په کوم کښې چې یتیم وي او د هغه سره ښه سلوک کیږي او په مسلمانانو کښې بد ترین کور هغه دے په کوم کښې چې یتیم وي او د هغه سره بد سلوک کیږي.[2]

**(2)** حُضورِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: مسکینان خلق به د مالدارانو نه 40 کاله مخکښې جنّت ته ځي، اے عائشه رَضِیَ اللهُ عَنۡهَا! مسکین خالي [لاسونه] مه لیږه اګر چې د کجورې یوه ټکړه وي هغه له ئې ورکړه. اے عائشه رَضِیَ اللهُ عَنۡهَا! د مسکینانو سره محبت کوه، دوئي [ځان ته] نزدې ساته د پاره د دې چې الله پاک د قیامت په ورځ تا [ځان ته] نزدې اوساتي.[3]

**(3)** د الله پاک خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: کوم کَس چې د یتیم په سر باندې صرف د الله پاک د رضا د پاره لاس راښکاږي نو په څومره ویښتو باندې چې د هغه لاس تیر شوے وي د هر ویښته په بدل کښې د هغه د پاره نیکۍ دي او کوم

---

[1]... تفسیر نورُ العرفان، پاره:4 ، سورۂ نساء، زیرِ آیت:10 ، صفحه:95.

[2]... ابنِ ماجه، کتاب الادب، باب حق الیتیم، صفحه:593 ، حدیث:3679.

[3]... ترمذی، کتاب الزہد، باب ما جاء ان فقراء المہاجرین... الخ، صفحه:562 ، حدیث: 2352.

کَس چې په یتیمه جینئ یا یتیم هلک باندې احسان اوکړي زه او هغه به په جنّت کښې (د دواړو ګوتو میلاوهو سره ئې اوفرمائیل چې) داسې یو.[1]

د دې حدیثِ پاک لاندې **مشهور مُفسّرِ قرآن، حکیمُ الاُمَّت** حضرت مفتی احمد یار خان نعیمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: کوم کَس چې د خپل خپلوان یا ناآشنا یتیم په سر باندې د محبت او شفقت لاس راښکاږي او دا محبت صرف د الله او د رسول (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) د رضا د پاره وي نو د هر ویښته په بدل کښې به هغه ته نیکي میلاویږي. دا ثواب خو صرف د لاس راښکلو دے خوک چې په ده باندې مال اولګوي، د ده خدمت اوکړي، ده له تعلیم او تربیت ورکړي، سوچ اوکړئ چې د هغه ثواب به څومره وي.[2]

## د زړه د نرمۍ یوه نُسخه

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** د یتیم په سر باندې د لاس راښکلو او نیکو حاصلولو سره سره د زړه سختي لرې کیږي او حاجتونه هم پوره کیږي لکه څنګه چې د حضرت ابو دَرداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے چې یو کَس د دواړو جهانونو مالک و مختار، مکي مدني سردار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې حاضر شو او د زړه د سختۍ شکایت ئې اوکړو نو هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: آیا ته غواړې چې ستا زړه نرم شي او ستا حاجتونه پوره شي؟ نو په یتیم باندې رحم کوه او د هغه په سر باندې لاس راښکاږه او د خپل خوراک نه په هغه باندې خوره او د داسې کولو سره به ستا زړه نرم شي او حاجتونه به دې پوره شي.[3]

---

[1]… مسند امام احمد ، جلد:9، صفحه:204 ، حدیث:22922.

[2]… مرآة المناجیح ، جلد:6 ، صفحه:562.

[3]… مجمع الزوائد ، کتاب البر والصلة ، باب ما جاء فی الایتام…الخ، ج:8 ، ص:206، حدیث:13509.

چې کله هم د يو يتيم ماشوم په سر باندې لاس راښکل وي نو د سر د شا نه لاس راښکاړئ او مخې طرف ته راځئ لکه څنګه چې په حديثِ پاک کښې دي: چې ماشوم هلک يتيم وي نو د هغه په سر باندې په لاس راښکلو کښې [د څَټ نه] مخې پورې [لاس] راښکاړئ او چې کله د هغه پلار وي (چې ماشوم يتيم نه وي) نو په راښکلو کښې لاس څَټ طرف ته بوځئ.[1]

## يو روژه ماتے د يتيم او مسکين سره

که چرې څوک خپلوان نه وي، بيا هم د چا يتيم او مسکين په روژه ماتي کولو کښې څه باک دے بلکه په يو يتيم او مسکين باندې په روژه ماتي کولو کښې د زيات ثواب ميلاويدو اُمِّيد دے. د صحابي ابن صحابي حضرت عبدُ الله بن عمر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ عادت مبارک وو چې هغوئي به روژه ماتے د مسکينانو سره کولو.[2]

سُبْحٰنَ الله! چې مونږه هم نِيَّت اوکړو چې زيات نه وي نو کم نه کم يو روژه ماتے خو د چا غريب سره اوکړو، اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! د هغه زړه ته به سکون اورسي، چې د هغه د زړه نه دعاګانے اوځي نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! زمونږه بيړه به پار شي.

| | |
|---|---|
| ہو مرا کام غریبوں کی حمایت کرنا | دردمندوں سے، ضعیفوں سے محبت کرنا |

## (2): لمُونځ له اهميت نه ورکول

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! په سُورَۂ ماعُون کښې د قيامت نه د انکار کوونکو

[1] ... معجمِ اَوْسَط، جلد:1 ، صفحه:351، حديث:1279.

[2] ... لطائف المعارف ، صفحه:233.

دويم عيب دا بيان شو چې هغوئې لمُونځ له اهميت نه ورکوي، په لمُونځونو کښې سُستي او بے پرواهي کوي، ارشاد کيږي:

| | |
|---|---|
| الَّذِيْنَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُوْنَ ۝ (پاره:30 ، سورۂ ماعون:5) | مفهوم ترجَمۂ کنزُ الایمان: کوم چې د خپل لمَانځه نه غافل دي. |

په تفسیرِ صراطُ الجنان کښې دي: د دې نه مُراد منافقان دي چې کله هغوئې ځانله شي نو لمُونځ نه کوي ځکه چې هغوئې د دې د فرض کيدو يقين نه لري او کله چې هغوئې د خلقو سره وي نو لمُونځ ګزاره جوړيږي، خپل ځان لمُونځ ګزاره ظاهروي او هغوئې ته د ښودلو د پاره کښيني پاځي او په حقيقت کښې دا خلق د لمُونځ نه غافله دي.[1]

## د لمُونځ نه د غفلت يو څو صورتونه

د لمُونځ نه د غفلت يو څو صورتونه، مثلاً: ❁ لمُونځ په پابندئ سره نه کول ❁ په صحيح وخت نه کول ❁ فرائض او واجبات په صحيح طريقے سره نه ادا کول ❁ د شرعي عذر نه بغير د جَمعے سره نه کول ❁ د لمُونځ پرواه نه کول ❁ په تنهائي [يعني يواځې ځائے] کښې قضا کول او د خلقو په مخکښې کول وغيره.

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! که چرې مونږه غور اوکړو نو دا صورتونه هم اوس زمونږ په معاشره کښې ډير موندلے کيږي، لمُونځونه قضا کوي، د لمُونځونو فرائض او واجبات په صحيح طريقے سره ادا کول خو غټه خبره ده، کښې شمير مسلمانان داسې دي کومو ته چې د لمُونځ فرائض او واجبات هم پوره نه وي معلوم، خومره داسې دي کوم چې د لمُونځ هډو پرواه نه کوي، چې کله ئې زړه اوغواړي اوئې کړي، کله ئې نه کوي، څوک

[1]... تفسیر صراط الجنان ، پاره:30 ، سورۂ ماعون، زیرِ آیت:5 ، جلد:10 ، صفحہ:840.

دوه [لمُونځونه] اوکړي، څوک څلور [لمُونځونه] اوکړي او زړه تَسَلِّـي ورکړي، څوک بغير د څه عذر نه جَمعه پريږدي او د داسې [خلقو] يو شمير دے کوم چې په يوه جُمعه او بله جُمعه يا صرف د اختر په ورځ جُمات ته ځي.

## د لمُونځ نه د غفلت وبال

**ياد ساتئ!** لمُونځ د دِين اهم ترين رُکن دے، الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

فَخَلَفَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ اَضَاعُوا الصَّلٰوةَ وَاتَّبَعُوا الشَّهَوٰتِ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا ﴿۵۹﴾

(پاره:16 ، سورۂ مريم:59)

مفهوم ترجَمهٔ کنزُ الايمان: نو د هغوئي نه پس د هغوئي په ځائے نالائقه ځامن راغلل کومو چې لمُونځونه ضائع کړل او په خپلو خواهشونو پسې روان شول نو ډير زر به هغوئي په دوزخ کښې د غَيّ ځنګل بيامومي.

په دې آيت مبارک کښې د **غَيّ** ذِکر شوے دے، حضرت علامه مولانا مفتي محمد امجد علي اَعظمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: **غَيّ** په دوزخ کښې يوه دره ده د کومې ګرمي او ژور والے چې د ټولو نه زيات دے، په دې کښې يو کوهے دے د کوم نوم چې **هَب هَب** دے، کله چې د دوزخ اور په مړ کيدو شي نو الله پاک دغه کوهے برسيره کړي د کوم نه چې هغه بيرته (يعني د مخکښې په شان) لمبه شي.[1]

**اے عاشقانِ رَسُول!** د الله د ويرې نه اولړزيږئ! او د ويريدو سره د خپلو ګناهونو نه توبه کړئ! په قرآنِ کريم کښې وئيلے شوي دي چې څوک لمُونځونه ضائع کوي هغوئي د غَيّ نومې دوزخ خطرناک کوهي حقدار دي. په دې خطرناک کوهي باندې د ځان پوهه

[1]... بهارِ شريعت ، جلد:1 ، صفحه:434، حصه:3.

کولو د پاره چرته د دُنيا د يو ژور کوهي په غاړه اودرېږئ او د هغې ژور والي ته اوګورئ او سوچ اوکړئ چې که چرې د دُنيا په دې کوهي کښې قيد کړے شو نو آيا مونږ به دا سزا برداشت کړے شو؟ که چرې نهٔ او يقيناً نهٔ نو بيا به د دوزخ د خطرناک کوهي عذاب څنګه برداشت کړے شو!

## د بے لمَانځه 3 رُسوائي

منقول دي: د قيامت په ورځ به په لمُونځونو کښې سُستي کولو والا په دې حال کښې راځي چې د هغه په مخ باندې به 3 کرښې ليك وي: (1) اے د الله پاک حق بربادوونکيه! (2) اے د الله د عضب سره مخصوصه! (3) لکه څنګه چې تا په دُنيا کښې د الله پاک حق ضائع کړو هم دغه شان تهٔ هم د الله پاک د رحمت نه مايوسه شه.[1]

| پڑھتے رہو نماز تو جنت کو پاؤ گے | چھوڑو گے گر نماز جہنم میں جاؤ گے |
| --- | --- |

الله پاک دې مونږ ته د ريښتيني او پاخه لمُونځ ګزاره جوړيدو توفيق را نصيب کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم .

## (3) رياکاري

د قيامت د انکار کوونکو دريم صفت دا بيان شو چې هغوئي رياکاري کوي، الله پاک فرمائي:

| الَّذِيْنَ هُمْ يُرَآءُوْنَ ۙ﴿۶﴾ (پاره:30 ، سورۂ ماعون:6) | مفهوم ترجَمۂ کنزُ الايمان: هغوئي کوم چې رياکاري کوي. |
| --- | --- |

[1]... الزواجر، الكبيرة السابعة و السبعون، جلد:1 ، صفحه:256.

يعنې منافقان فرائض د الله پاک د رضا حاصلولو د پاره نه ادا کوي بلکه خلقو ته د ښودنې د پاره ئې کوي.[1]

## د رياکارۍ تعريف

د رياکارۍ تعريف دا دے چې خپل عمل په دې ارادے سره ظاهرول چې خلق هغې [عمل] ته اوګوري او د هغه د عبادت ګزارۍ ستائينه اوکړي.[2]

## رياکاري څه ته وئيلے شي؟

**د الله پاک د رضا نه علاوه په بَل څه ارادے سره عبادت کول.** لکه چې د عبادت مقصد ئې دا وي چې خلق د هغه د عبادت نه خبر شي د پاره د دې چې هغه د خلقو نه مال واخلي يا خلق د هغه ستائينه اوکړي يا هغه نيک انسان اوګڼي يا هغه له عزّت وغيره ورکړي.[3]

## د رياکارۍ تباهي

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! رياکاري ډيره بده بيماري ده. الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

مَنۡ كَانَ يُرِيۡدُ الۡحَيٰوةَ الدُّنۡيَا وَزِيۡنَتَهَا نُوَفِّ اِلَيۡهِمۡ اَعۡمَالَهُمۡ فِيۡهَا وَهُمۡ فِيۡهَا لَا يُبۡخَسُوۡنَ ﴿۱۵﴾

(پاره:12 ، سورۂ هود:15)

مفهوم ترجَمۂ کنزُ الايمان: څوک چې د دُنيا ژوند او عشرت غواړي مونږ به په هغې کښې د هغه پوره ميوه ورکړو او په هغې کښې به کمے نه کوؤ.

---

[1]... تفسير صراط الجنان، پاره:30 ، سورۂ ماعون، زيرِ آيت:5 ، جلد:10 ، صفحه:841.

[2]... تفسير صراط الجنان، پاره:30 ، سورۂ ماعون، زيرِ آيت:5 ، جلد:10 ، صفحه:841.

[3]... الزواجر، الکبيرة الثانية، جلد:1 ، صفحه:76.

حضرت ابنِ عبّاس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُما د دې آيت په تفسير کښې فرمائي چې رياکارئ کوونکو ته هم په دُنيا کښې د هغوئي د نيکو بدله ورکړے کيږي او په هغوئي باندې د ذرې برابر ظلم هم نشي کولے.[1]

رِیاکاریوں سے بچا یاالٰہی! | بنا مجھ کو مُخلِص بنا یاالٰہی!

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د رياکارئ دردناک عذاب

په حديثِ پاک کښې دي: بے شکه په دوزخ کښې يوه دره ده د کومې نه چې دوزخ هره ورځ 400 ځله پناه غواړي، اللّٰه پاک دا دَره د **مُحَمَّد** [صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم] د اُمَّت هُغه رياکارانو د پاره تياره کړې ده کوم چې به د قرآنِ کريم حافظان، د غيرُ الله د پاره صدقه کوونکي، د الله پاک د کور حاجيان او د الله په لاره کښې وتونکي وي.[2]

بچالے رِیا سے بچا یاالٰہی! | تُو اِخلاص کر دے عطا یاالٰہی!

د **رياکارئ** د تباهئ مُتَعَلِّق د تفصيلي معلوماتو او د دې د علاج نه د ځان خبرولو د پاره د شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه کتاب **نیکی کی دعوت**، د صفحه 63 نه تر 106 پورې اولولئ! الله پاک دې مونږ له د رياکارئ د آفت نه د بچ کيدو، هر نيک کار صرف او صرف د الله پاک د رضا د پاره د کولو توفيق را کړي.

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

---

[1]... تفسيرِ طبری، پاره:12 ، سورۂ ہود، زيرِ آيت:15 ، جلد:7 ، صفحہ:13.
[2]... معجمِ کبير، جلد:6 ، صفحہ:111 ، حديث:12632.

## (4) خير خواهي نه كول

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** قيامت دروغ ګڼلو والؤ څلورم او آخري صفت كوم چې الله پاك په سورۂ ماعُون كښې بيان كړے دے، هغه دادے.

وَيَمۡنَعُوۡنَ الۡمَاعُوۡنَ

(پاره:30 ، سورۂ ماعون:7)

مفهوم ترجَمۂ كنزُ العرفان: او د استعمال معمولي څيز هم نه وركوي.

د ماعُون معنىٰ ده: د عام استعمال معمولي څيز. مطلب دا دے چې منافقان دومره كنجوسان، بے حِسه او بے پرواه دي چې كه چرې څوك د دوئي نه د عام است..عمال معمولي شان څيز هم اوغواړي نو دوئي د وركولو نه انكار كوي.[1]

## يو مستحب عمل

علمائے كرام فرمائي: مستحب دي چې انسان په كور كښې يو داسې څيز د خپل حاجت نه زيات كيږدي د كوم چې ګاؤنډيانو ته حاجت وي او هغوئي ته عاريةً وركړے شي.[2]

## د يو ګوټ اوبو وركولو فضيلت

د مسلمانانو خوږه محترمه مور حضرت عائشه صديقه رَضِیَ اللہُ عَنۡہا فرمائي: ما عرض اوكړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! كوم يو څيز دے د كوم منع كول چې حلال نه دي؟ اوئې فرمائيل: اوبه، مالګه او اور. ما عرض اوكړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! په اوبو خو مونږه پوهه شو، خو د مالګې او اور دا حكم ولې دے؟ اے حُمَيرَاء رَضِیَ اللہُ عَنۡہا! چا چې چا له اور وركړو لكه هغه چې په اور پوخ كړے شوے ټول طعام خيراتي كړو او چا چې چا

---

[1]... تفسير صراط الجنان ، پاره:30 ، سورۂ ماعون، زيرِ آيت:7،جلد:10 ، صفحه:843 خلاصةً.

[2]... تفسيرِ خازن ، پاره:30 ، سورۂ ماعون ، زيرِ آيت:7 ، جلد:4 ، صفحه:479.

له مالکه ورکړه هغه چې لکه هغه ټول طعام خیراتي کړو کوم چې هغه مالکې خوندور جوړ کړو او چا چې چا مسلمان له یو ګوټ اوبه په هغه ځائے کښې ورکړې چرته چې اوبه عامې میلاویږي هغه چې لکه غلام آزاد کړو او چا چې مسلمان له هلته یو ګوټ اوبه ورکړې چرته چې اوبه نه میلاویږي لکه هغه چې ژوند ورکړو.[1]

الله پاک دې مونږ له په آخرت باندې د پوخ یقین ساتلو، په زړه کښې د الله پاک د ویرې زیاتولو، د الله پاک په بارګاه کښې د حاضرئ د فِکر کولو توفیق را عطا کړي. مونږه د کافرانو او منافقانو 4 عیبونه واوریدل: (1) د قیامت نه انکار کوونکي کافران او منافقان کنجوسان دي، یتیمانانو، مسکینانو له دیکې ورکوي (2) په لمُونځونو کښې سُستي کوي (3) که نیک اعمال کوي هم نو د اخلاص سره، د الله پاک د رضا موندلو د پاره نه بلکه خلقو ته د ښودلو، د خپلې واه واه کولو د پاره ئې کوي او (4) دومره کنجوسان دي چې د عام استعمال معمولي څیز هم غوښتونکو له نه ورکوي.

الله پاک دې مونږ ته د دې څلورو عیبونو نه د بچ کیدو توفیق را نصیب کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم .

کمر توڑی ہے عصیاں نے، دبایا نفس و شیطاں نے
نہ کرنا حشر میں رُسوا، مرا رکھنا بھرم مولیٰ!
نہ کرنا حشر میں پُرسش، مری ہو بے سبب بخشش
عطا کر باغِ فِردوس از پئے شاہِ اُمَم مولیٰ!
مسلماں ہوں اگر چہ بدہوں، سچّے دِل سے کرتا ہوں
ترے ہر حکم کے آگے سرِ تسلیم خم مولیٰ!

[1]... ابنِ ماجہ، کتاب الرہون، باب المسلمون شرکاء فی ثلاث، صفحہ:396، حدیث:2474.

میں رحمت، مغفرت، دوزخ سے آزادی کا سائِل ہوں
مہِ رمضان کے صدقے میں فرمادے کرم مولیٰ! [1]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د رَمَضَانُ المُبَارَک یو ښکلے عبادت

**خوږ‌و او محترمو اسلامي ورونړو!** د رَمَضَانُ المُبَارَک دويمه عشره روانه ده، ډير زر به آخري عشره شروع شي.د رَمَضَانُ المُبَارَک د آخرئ عشرې يو ډير ښکلے عبادت دے: **اعتکاف**. د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه د ټول رَمَضَانُ المُبَارَک اعتکاف هم ثابت دے او د آخرئ عشرې اعتکاف خو زمونږ د آقا و مولٰی، تاجدارِ انبيا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډير خوښ وو، خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د آخرئ عشرې د اعتکاف ډير اهتمام فرمائيلو. تر دې چې يو ځل ئې په څه وجه په رَمَضَانُ المُبَارَک کښې اعتکاف اونکړے شو نو هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په شَوَّال کښې اعتکاف اوفرمائيلو.[2]

## د اعتکاف فضائل

❁ د الله پاک آخري نبي، رسولِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: څوک چې د الله پاک د رضا او خوشحالئ د پاره د يوے ورځې اعتکاف اوکړي الله پاک به د هغه او د دوزخ ترمينځه 3 خندقونه خنډ کړي، د هر خندق مزل (يعني لرې والے)دمشرق او مغرب د فاصلے نه هم زيات دے.[3] ❁ دامُّ المُؤمِنِين حضرت عائشه صديقه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا نه روايت

---

[1]… (وسائل بخشش صفحہ: 97- 98 ملتقطا)

[2]… بخاری، کتاب الاعتکاف، باب الا عتکاف فی الشوال، صفحہ:533، حديث:2041 .

[3]… شُعَبُ الْاِيْمَان، جلد:3، صفحہ:425، حديث:3965.

دے: مَنْ اِعْتَكَفَ اِيْمَاناً وَّاِحْتِسَابًا غُفِرَ لَهٗ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ چا چې د ايمان سره او د ثواب حاصلولو په نيت اعتکاف اوکړو د هغه تير شوي ګناهونه به اوبخښلے شي.[1] ❁ په يو حديثِ پاک کښې ئې اوفرمائيل: چا چې په رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې د يوې ورځې اعتکاف اوکړو هغه داسې دے لکه چې 2 حجونه او 2 عمرې اوکړې.[2]

## د اجتماعي سُنَّت اعتکاف ترغيب

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اسلامي په ديني ماحول کښې په **ملک** او **بهر ملکونو کښې په زرګونو جُماتونو کښې په لکونو عاشقانِ رسول د پوره رَمَضَانُ الْمُبَارَک او د آخري عشرې د اعتکاف** کولو سعادت حاصلوي، کوم چې د يو مکمل جدول مطابق د ذکر و اذکار، فرائضو او نوافلو او نورو عبادتونو سره سره هره ورځ د مازديګر اوتراويح نه پس د**2مدني مذاکرو** په ذريعه عِلمِ دين حاصلوي او د سُنَّتو تربيت حاصلوي. ډير اعتکاف کوونکي د رَمَضَانُ الْمُبَارَک په ختميدو باندې د اختر د شپې نه د عاشقانِ رسول سره د سُنَّتو د تربيت مدني قافلو مسافر جوړيږي، ګڼ شمير د مختلفو **مدني کورسونو** کولو سعادت حاصلوي.

راځئ! د ترغيب د پاره د اجتماعي اعتکاف يو مدني سپرلے اورو:

## د ګناهونو ډک ژوند کښې ئې سپرلے راغے

د ډيره الله يار (صوبه بلوچستان ، پاکستان) د يو اسلامي ورور د بيان خلاصه ده: زه مخکښې د ګناهونو په دَلدَل کښې نښتے ووم، فلمونه کتل او بد نظر وغيره زما د خوښې

[1] … جَامِع صغِير، صفحہ:516، حديث:8480.
[2] … جَامِع صغِير، صفحہ:516، حديث:8479.

مشغولا وه، يو ځل د يو عاشقِ رسول اسلامي ورور سره زما ملاقات اوشو، هغه په ډير ښكلي انداز كښې ما ته په اجتماعي سُنّت اعتكاف كښې د شركت كولو دعوت راكړو، د هغه د حكمت نه ډک او ښكلے انداز چې مې اوليدلو نو زه ډير متاثره شوم او زه په رَمَضَانُ المُبَارَک كښې په اجتماعي اعتكاف كښې د شركت كولو د پاره فيضانِ مدينه ته لاړم. په اعتكاف كښې د مبلغينو اسلامي ورونړو د سُنتو نه ډكو بيانونو، د سوز نه ډكو مناجاتو او د ژړا نه ډكو دُعاګانو زما د زړه دُنيا بدله كړه، ما د تيرو ګناهونو نه توبه كړه او د دعوتِ اسلامي پاک ديني ماحول ته راغلم، د دې په بركت زما په كردار او ګفتار كښې مثبت بدلون راغے، ما عمامه [پټکے] شريف هم په سر كړو، د سُنّت مطابق مې ګيره مباركه هم پريښوده او اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د لمُونځونو پابند هم جوړ شوم.

آئیں گی سُنتیں، جائیں گی شامتیں
تم سدھر جاؤ گے، پاؤ گے برکتیں
مدنی ماحول میں کرلو تم اعتکاف
مدنی ماحول میں کرلو تم اعتکاف

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## مدني قاعِده (Madani Qaida) موبائل ايپلي كيشن

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د قرآنِ كريم فيضان عام كولو د پاره د دعوتِ اسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلي كيشن هم جاري كړے دے، د كوم نوم چې مدني قاعِده (***Madani Qaida***) دے. په دې ايپلي كيشن كښې مكمله مدني قاعِده او د دې آډيو (***Audio***) شامله كړے شوې ده يعني په دې ايپلي كيشن كښې چې تاسو د مدني قاعِدے په كوم حرف يا كوم لفظ باندې كلک (***Click***) كوئ، په آډيو (***Audio***) كښې به د هغې تَلَفُّظ چليږي، داسې د دې ايپلي كيشن په مرستې سره په آسانئ سره مدني

قاعِده لوستل، د دې مشق (*Practice*) کول او صحيح مخارج او ضروري تجويد زده كيدے شي. دا ايپلي کيشن په خپل سمارټ فون کښې انسټال کړئ، پخپله ترې هم فائده واخلئ او نورو ته هم د دې ترغيب ورکړئ.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بيان په آخره کښې د سُنّت فضيلت او د ژوند يو څو آدابو بيانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، شَهَنشَاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِي فَقَدْ اَحَبَّنِي وَمَنْ اَحَبَّنِي كَانَ مَعِي فِي الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّت سره محبت اوکړو هغه زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي.[1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## عيادت (يعني د بيمارتپوس کول) سُنَّتِ مصطفٰے دے

دوه فرامينِ مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: **(1)** څوک چې د مريض تپوس کوي هغه د جنّت په باغ کښې کښيني، کله چې هغه اودريږي نو 70 زره فرښتې د شپې پورې د هغه د پاره دُعا کوي.[2] **(2)** څوک چې د ثواب په طمع د خپل مسلمان ورور تپوس اوکړي، هغه به د دوزخ نه د 70 کالو په فاصِله لرې کړے شي.[3]

---

1... مشکوٰة،کتابُ:الْاِيمان،بابُ:الْاِعْتِصَام، جلد:1، صفحہ:55، حديث:175۔

2...شعب الايمان، مریض کی عیادت کا باب،جلد:6، صفحہ:531،حدیث:9171۔

3...ابو داؤد ،کتاب:جنائز ، باب :وضو میں عیادت کی فضیلت، صفحہ: 500، حدیث:3097۔

اے عاشقانِ رَسُول! د مريض تپوس كول سُنَّتِ مصطفٰـى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بلكه سُنَّتِ انبياء دے ❁ د خوږ نبـي رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عادت مبارک وو چې د كوم يو صحابي (رَضِىَ اللهُ عَنْهُ) د بيمارئ خبر به ورته ميلاؤ شو نو هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هغه د تپوس د پاره تشريف وړلو ❁ كه چرې يو كَس به 3 ورځې جُمات ته رانغلو نو هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هغه په باره كښې د خلقو نه پوښتنه كوله، كه چرې هغه به بيمار وو نو د هغه تپوس له به تللو[1] ❁ او كه چرې د تپوس كولو د پاره به د مدينے منورې آخري سر ته هم تلل وو نو هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به تشريف وړلو او دخپلو صحابه كرامو (رَضِىَ اللهُ عَنْهُم) تپوس به ئې كولو.[2]

❁ مشهور مُفَسِّرِ قُرآن حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اخلاقِ كريمه نه دي چې هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هر مالداره او غريب تپوس له د هغوئي كور ته تشريف وړلو.[3] ❁ د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عادت مبارک دا وو چې كله به ئې د مريض د تپوس د پاره تشريف يوړلو نو فرمائيل به ئې: لَابَأْسَ طَهُوْرٌ اِنْ شَآءَ الله (يعني هيڅ باک نشته كه الله پاک اوغواړي نو دا مرض (د ګناهونو) نه پاك كوونكے دے) د يو اعرابي (يعني د كلي اوسيدونكي) د تپوس د پاره ئې تشريف يوړلو نو دا [كلِمات] اوئې فرمائيل: لَابَأْسَ طَهُوْرٌ اِنْ شَآءَ الله.[4]

د مختلفو سنتونو زده كولو د پاره د مكتبةُ المَدينه **بهارِ شريعت** جلد3 نه حِصَّه 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو كتاب **550 سنتيں اور آداب** او

---

[1]...مسند ابی یعلی، جلد:3، صفحہ: 141، حديث: 3429۔

[2]... مسلم،كتاب: جنائز، مريض کی عيادت کا باب ،صفحہ:331، حديث:925خلاصةً۔

[3]...مرآة المناجيح، جلد: 2، صفحہ:407۔

[4]...بُخاری،كتاب: المناقب، صفحہ:919، حديث:3616 ۔

رساله **بیمار عابد** واخلئ او اولولئ ئي! د سنتو زده کولو یوه بهترینه ذریعه د دعوتِ اسلامي مدني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم ده.

| | |
|---|---|
| لُوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو | سیکھنے سنّتیں قافلے میں چلو |
| ہوں گی حل مشکلیں قافلے میں چلو | ختم ہوں شامتیں قافلے میں چلو |

الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق راعطا کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم .

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴾1﴿ د شَبِ جُمعے [یعنې د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرګانِ دینو فرمائیلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (یعنې د جُمُعے او زیارت مینځنۍ شپه کښې) دا دُرُود شریف په پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبْر کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر ته د خپل رَحمت نه په ډکو لاسونو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِیِّ الْاُمِّیِّ
الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاہِ وَعَلٰی اٰلِہٖ وَصَحْبِہٖ وَسَلِّمْ

1... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ ملخصًا

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سیِّدُنا انَس رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ نه روایت دے چې تاجدارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو د كښیناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودریدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شریكه دا دُرُود اووائیو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿3﴾ د رَحمت اویا دروازې:

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اویا دروازې بیرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریكه اووائیو:

صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشریف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شریف یو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي.[2] راځئ چې په شریكه ئې اُووائیو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللهِ
صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللهِ

---

1... القول البدیع، الباب الثانی، ص۲۷۷
2... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة الثانیۃ والخمسون، ص۱۴۹

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے ﷺ

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ تر مینځه کښېنولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم حیران شول چې دا څوك ذِی مَرتبه [یعني اوچتې مرتبې والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَتَرضٰی لَهٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شریف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَةِ

## ﴿1﴾ د یو زر ورځو نیکۍ:

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا نه رِوایت دے چې سرکارِ مدینه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې د یو زر ورځو پورې نیکۍ لیکي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو:

جَزَی اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

---

1... القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

2... الترغیب والترہیب، کتاب الذکر و الدعاء، ۳۲۹/۲، حدیث:۳۰

3... مجمع الزوائد، کتاب الادعیة، باب فی کیفیة الصلاة...الخ، ۲۵۴/۱۰، حدیث:۱۷۳۰۵

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[1] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ

رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

1... تاریخ ابنِ عساکر، ۱۵۵/۱۹، حدیث:۴۴۱۵